مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله ارينزی ۲۰۱۹/۰۴/۲۸

# پوځي پلار

## لنډه کيسه

زوی چې دوه اونۍ مخکې د دولسم ټولګي شهادت پاڼه اخستې وه، زړه نا زړه پلار ته ورغی.
زوی په دې ښه پوهېده چې پلار له پلار او نيکه نه پوځي سړی دی او په چارو کې ډېر بوخت. په دې ورځو کې ډېر خپه هم و. د ګاونډي ولايت په ورروستنۍ جګړه کې يې شپږ سرتيري وژل شوي، اته ټپيان او دوه ورک وو. دی په دې هم ډېر خواشينی و چې يو ملګری پوځي قوماندان يې د غرني ولايت په جګړه کې سخت ټپی شوی او اوس په روغتون کې بېسده پورت و؛ خو زوی بيا هم سل زړونه يو کړل او پلار ته ورغی چې مشوره وغواړي چې د پوهنتون په کانکور کې د ښکلو هنرونو پوهنځی لومړی وټاکي که ادبيات؟
زوی دا ځلور کاله په خپلو ټولګيو کې لومړی او په ټولنيزه مضامينو کې بريالي و؛ خو اوس په دوو کې اريان پاته و چې د خپلې خوښې ادبيات وټاکي او که د خپل ذوق ښکلي هنرونه لکه موسيقي، انځور او مجسمې؟
پلار ډېر پوځي و. الوتکې، چورلکې، ټانکونه، توپونه، ټوپک، سرتيري، جګړې، شهيدان او ټپيان هغه شيان وو چې پلار پدې مين و او تل يې يادول.
پلار له جګړې پرته په بل شي نه پوهېده او په ملګرو کې په دې نوموتی و چې په دنده مين سړی دی، تل په سرتېرو زيار باسي چې سمې زده کړې وکړي او سبانيو جګړو ته چمتو واوسي.

(يادونه: په دويم مخ کې د ستوری علامه شته؛ خو...)

په خونه کې پلار زوی ته وويل:
زويه ته هېڅکله د وسلو او جګړو په هکله څه نه وايې. زوی فکر وکړ چې د خبرې د يادولو وخت دی، شونډې يې په ژبه لنده کړه، شاوخوا يې وکتل او ورو– ورو يې وويل:
پلاره ... پلاره...
پلار لږ په غوصه شو،
څه وايې پلاره ... پلاره... ووايه څه وايې؟
زوی بيا هم شونډې په ژبه لندې کړې، شاوخوا وکتل، د پلار د خونې په ديوالونو، پوځي عکسونو او انځورونو ته ځير شو او وويل:
پلاره ... پلاره ... زه د جګړو له پاره نه يم زيږدېدلی!
د پلار سترګي رډې او غټې شوې او زوی ته يې وکتل زوی بيا هم ورو وويل: زه په جګړو نه پوهېږم، جګړې مې نه خوښېږي، له جګړو کرکه لرم، وينو ته نه شم کتلای، جګړو زما ډېر همځولی خوړلي او د خلکو هيلې په اوبو لاهو کړی. پلار د زوی خبرې پرې کړې:
ته د نوې زمانې ځوان يې؛ خو زه په جګړو کې زيږېدلی يم، په جګړو کې ځوان شوی يم، په جګړو کې ټپی شوی يم، اوس هم په جګړو کې ولاړ يم او په همدې جګړو کې وژل کېږم!!
بيا يې ديوال ته وکتل او زوی ته يې وويل:
- هغه پاس انځور ګورې؟
زوی د انځورونو خواته ځير شو.
- هو پلاره.
پلار لږ خوشاله شو.
- هغه لوی انځور ته ګوره. دا زر کاله پخوا زموږ ټولواک و. ده شپږ ځلې په ډيلي يرغل کړی و. هغه وخت په هغه جګړو کې په زرګونو خلک وژل شوي!



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

د هغې ښنګ ته بل ټولواک دی چې نژدې درې سوه کاله مخکې یې ځو ځلې ډیلی نیولی. په هغه جګړو کې هم په زرګونو کسان وژل شوي وو.
ها بلې خوا ته دا سړی وینې، په پوځي جامو کې دا غازي څومره ښایسته ښکاري! ده زموږ خپلواکۍ ګټلې. په هغه وخت کې هم زموږ په زرګونو غازیانو سرونه شندلي، خو انګریزانو ته یې غاښ ماتونکې ماته ورکړې.
زوی غلی و او انځورونو ته یې کتل. پلار بیا وویل:
- دې لاندې عکسونو ته وګوره. دا زه یم. لکه چې زه هم په پوځي جامو کې ښه ښکارم.
زوی پلار ته وکتل او وویل:
- هو پلاره ته ښایسته سړی یې!
پلار بیا عکسونو ته وکتل.
- زما دپاسه زما پلار دی. هغه هم پوځي و. ستا بابا.
زما پلار د دولت سړی و. ډېر کاله مخکې چې روسان دلته راغلي وو، زما پلار د هغوی په ښنګ کې د اشرارو په ضد جنګېده؛ خو ووژل شو.
د بابا د پاسه هغه پیکه او کمکی عکس ګورې. زوی هغه کمکي عکس ته ځير شو!
- هو پلاره.
پلار وویل: هغه زما نیکه دی. ستا غور نیکه. هغه هم پوځي و او د انګریزانو په ضد یې جګړه کوله. دی یو غازي و غازي! خو ورور یې د انګریزانو او دولت سړی و او دواړه په جګړو کې ووژل شول.
په دې وخت کې پلار زوی ته وکتل او وویل:
- که زما د غور نیکه عکس یا انځور وای، هغه به تر ټولو پاس وای. هغه له تربرو سره په جګړه کې وژل شوی و!
زوی غلی شانتې ورته وویل:
- پلاره زموږ ټول مشران وژل شوي....
پلار په ویاړ ځواب ورکړ.
- هو بچیه موږ د بړستن خلک نه یاستو. ټول نرانو غوندې وژل کېږو!
او بیا عکسونو ته ځير شو.
- هو ... زما ښنګ ته ګورې. حاجی اکا زما مشر ورور چې ږیره یې سپینه وه او له روسانو سره په جګړه کې ووژل شو. موږ به اشرار باله؛ خو ده به موږ ته کفار او کمونستان ویل!
تر هغه لاندې د همده د زوی عکس دی. هغه د دولت افسر و او له دریو روسانو سره یو ځای ووژل شو.
پلار بیا زوی ته وکتل:
- دا کینې لور ګورې؟ دا دې بل اکا دی. دی پنځه کاله مخکې له امریکایانو سره په جګړه ووژل شو. دی په کلي کې اوسېد. زوی یې اوس د امریکایانو په خوا کې ولاړ دی، اربکی دی او سل دوه سوه کسان لري.
زوی پلار ته اریان – اریان وکتل. ښکلې هنرونه او ادبیات پاته غوندې ښکارېدل. ده فکر کاوه چې له پلار سره د ښکلو هنرونو، موسیقي او ادبیاتو په هکله خبرې نه کېږي.
د هغه ذهن او فکر په جګړو او وسلو ډک وو او د بل شي اورېدو ته چمتو نه ښکارېده.
زوی ته هغه تور پلاستکي ټوپک یاد شو چې ده د خپل ماشوموالي د یادګار په توګه ساتلی او د خپلې خونې په دېوال ځوړند کړی و. ده د لومړی ځل له پاره له هغه ټوپک نه کرکه وکړه!
د پلار په کوټه کې هم وسلې وې. مخامخ یو کلاشنکوف پروت و، په میز باندې امریکایي تومانچه ښکارېده او ...
زوی په دې نه پوهېد چې اوس پلار ته څه ووایي؟ لکه چې پلار په خپله نړۍ کې ډوب و. بیا یې په جګړو کې د مهارتونو د لوړولو کتاب پرانستی او ورو – ورو پاڼې اړولې.
زوی په دې وخت کې په هغه کتاب فکر کاوه چې ده لوست. د الکساندر دوما تور غاټول! دوه سوه کاله مخکې په هالند کې د ګلانو د روزنې او پالنې یوه په زړه پورې سیالي، یوه ښکلې او رښتیانۍ مینه، غدر او خیانت او په پای کې وصال او بریالیتوب!
په تور غاټول کې یوه ښایسته پېغله د مینې له پاره ستونزې ګالي چې خدای ښه پوهېږي؛ خو په پای کې د خپل ګران مین غیږې ته رسي او د ښار د غاټولو د روزنې او پالنې ستره جایزه ګټې!
زوی فکر وکړ چې پلار په مینه، په ګلانو، په پسرلي، په ښایست، په مینتوب، په ښکلا او په سندرو سم نه پوهېږي او ټول ذهن یې په وسلو، جګړو، وینو او کساتونو ډک دی!
لږ وروسته زوی او پلار یو بل ته وکتل دواړه غلي وو. زوی په دې نه پوهېده چې نور څه ووایي، لکه چې خبرې پای ته رسیدلې وې؛ خو پلار فکر کاوه چې له زوی سره باید مرسته وشي چې ښه پوځي مسلک وټاکي!
له همدې امله پلار چوپتیا ماته کړه او وویل:
- هو... زویه ته اوس له خیره لوړو زده کړو په درشل ولاړ یې. کله دې فکر کړی چې څه به لولې؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هوايي ټولګي دې خوښېږي، ځمکنی پوځ غوره بولي، کوماندو جوړېږي، ټانګ ښه دی که توپچي او که بل څه؟
د زوی ژبه او شونډې ټول وچ شول. اريان – اريان يې پلار ته وکتل. پلار د خوب په تمه و؛ خو زوی ځمکې ته کتل او د ويلو له پاره يې هېڅ نه درلودل! لار ځني ورکه وه او تېښتې ته يې شېبې شمارلې.
پلار بيا پوښتنه وکړه؛ خو ځواب نه درلود. د کوټې د ديوالونو عکسونو او انځورونو ته ځير و او د تورغاټول د کتاب اتله پېغله يې د سترګو په وړاندې په نڅا کې وه...
پلار لږ په غوسه غوندې شو!
- وروسته له خپل جګړن ماما سره خوښه وکړه. ته په هغه ډېر ګران يې. وګوره چې هغه څه وايي؟
زوی پاڅېد، خپلې کوټې ته لاړ او هغه تور ټوپک يې مات – مات کړ چې ده لس کاله په ديوال ځوړند ساتلی و!
ده د دې تور ټوپک ماتې ټوټې د پلار د خونې مخ ته کېښودې، بېرته خپلې خونې ته راغی او هغه ګيتار يې په ديوال ځوړند کړ چې ده درې کاله تر خپل کټ لاندې پټ ساتلی؛ خو ډېر پرې ګران و!
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ